


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته : 27 نوامبر 2022 ميلادی

# ستا مينه

د انکر منکر ځواب کې وه ستا مينه
جنتي ومه ثواب کې وه ستا مينه

د خوښی او ښکې له سترګو تلې هيواده
چې د عشق په در ياب کې وه ستا مينه

د ملالې يا قربان به زمزمه وه
د پښتون حجره رباب کې وه ستامينه

ستا رنګونه يې له تانه دي غلا کړي
په نرګس او په ګلاب کې وه ستا مينه

ستا ساتنه لکه مور په موږه فرض ده
ما لوستلی په کتاب کې وه ستا مينه

د حفيظ مليار دزړه ورقې ګوره
د غزلې په هر باب کې وه ستا مينه

***

عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org